شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پراو ۱۱۰۹ ګڼه / شنبه د صفرالمظفر ۳یمه ۱٤٤۸هـ.ق / د چنګاښ ۲۷مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جولای ۱۸مه ۲۰۲٦ میلادي

مولوي ذبیح الله مجاهد:

افغانستان کې د داعشي خوارجو ډله په بشپړه توګه ځپل شوې او هیڅ فزیکي حضور نه لري

د اسلامي امارت ویاند، ذبیح‌الله مجاهد، د روسیې د بهرنیو چارو د وزیر سرکي لاوروف د وروستیو څرګندونو په غبرګون کې ویلي، چې داعش ډله په افغانستان کې په بشپړه توګه ځپل شوې او هیڅ ډول فزیکي حضور نه لري.

ښاغلي مجاهد له رسنیو سره په خبرو کې ویلي: د اسلامي امارت امنیتي او دفاعي ځواکونه پر ټول هېواد بشپړ کنټرول لري او د هر ډول احتمالي امنیتي ګواښ پر وړاندې د چټک او اغیزناک اقدام وړتیا لري.

د ده په وینا، په وروستیو کلونو کې د داعش پر ضد پراخ... **۳مخ**

افغانستان، ایران او تاجیکستان د درې‌اړخیز ترانسپورټي دهلیز د جوړولو هوکړه وکړه



د افغانستان اسلامي امارت د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت د ځمکني ترانسپورټ د قوانینو او معاهداتو رئیس یار محمد رمضان، د یوه پلاوي په مشرۍ په مشهد ښار کې د افغانستان، ایران او تاجیکستان ترمنځ په درې اړخیزه غونډه کې ګډون کړی دی.

په دې غونډه کې د ځمکنۍ ترانسپورټ په برخه کې د همکاریو د پراختیا او د یو شمیر نورو موضوعاتو په اړه خبرې شوې دي.

د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت د معلوماتو له مخې؛ یاده غونډه د درېیو هېوادونو ترمنځ د ټرانزیټي همکاریو د پراختیا او د ترانسپورټي اړیکو د پیاوړتیا په موخه جوړه شوې وه او پکې هوکړه شوې چې د افغانستان، ایران او تاجیکستان ترمنځ د ځمکنۍ ترانسپورټ درې اړخیز دهلیز رامنځته شي. د هوکړې له مخې به د ایران او تاجیکستان سوداګریز توکي د افغانستان له لارې نورو هېوادونو ته ټرانزیټ او ولېږدول شي.

افتتاح بخش مراقبت‌های ویژه مجهز در خوست

مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت عامه، در جریان سفرش به ولایت خوست، بخش عاجل (ICU) را، در شفاخانه ولایتی این ولایت افتتاح کرد. این بخش که قابلیت ده بستر را دارد با تجهیزات طبی معیاری برای رسانیدن خدمات صحی در نشستی افتتاح گردید؛ که در آن محترم معین عرضه خدمات صحی گفت: امارت اسلامي افغانستان برای فراهم کردن خدمات صحی معیاری به هموطنان خود متعهد بوده و برای آینده نیز پلان های روی دست دارد. همچنان در مراسم افتتاح این بخش آقای محبوب شاه قانت معاون ولایت خوست نیز حضور داشت و گفت: خدمت برای مردم برای امارت اسلامی یک اصل بوده و امارت اسلامی تعهد دارد تا در بخش های صحی و انکشافی نه تنها برای ولایت خوست بلکه به تمام ولایت های افغانستان پروژه ها را تطبیق نماید، تا مسئولیت دولت در قبال مردم ادا گردد. از سویی هم داکتر اکرم محمد عکرمه رئیس صحت عامه این ولایت نیز از بهبود و معیاری سازی خدمات و ساخت مراکز صحی بیشتر در آینده نزدیک در این ولایت خبر داد.

د افغانستان او برونای ترمنځ د اړیکو د پراختیا لپاره د نویو هڅو پیل

په مالیزیا کې د افغانستان سفارت سرپرست نقیب‌الله احمدي، د برونای دارالسلام د بهرنیو چارو وزارت د اسیایي او افریقایي برخې له رئیسې، ډاکټرې فریدې نور بنت عبدالرزاق، سره لیدنه کړې ده. په کوالالمپور کې د افغانستان سفارت د معلوماتو له مخې، په دې لیدنه کې دواړو لورو د افغانستان او برونای دارالسلام ترمنځ د دوه‌اړخیزو... **۳مخ**

د کشندې - پل برق سړک د جوړولو چارې ۲۵ سلنه بشپړې شوې دي

د ټولګټو چارو وزارت ویلي چې د بلخ ولایت د کشندې ولسوالۍ د کشندې-پل برق ۱۸ کیلومتره سړک د جوړولو پروژې چارې پیل شوې دي. د دغه وزارت ویاند، محمد اشرف حق‌شناس په اېکس‌پاڼه لیکلي چې دا پروژه د ټولګټو وزارت له لورې له یو ساختماني او د سړک‌جوړونې شرکت سره قرارداد شوې ده. د خبرپانې له مخې؛ اوسمهال د دې سړک د جوړولو چارې ۲۵ سلنه بشپړې شوې دي.

د سرچینې په وینا: "یاد سړک د کشندې ولسوالۍ د مرکز اړوند د آق‌کپرک له سیمې څخه پیلېږي او د بلخ ولایت د شولګرې ولسوالۍ د پل برق تر سیمې پورې غځېږي. په دې پروژه کې دوه پلونه او ۳۲ پلګوټي شامل دي. د ټولګټو وزارت همداراز لیکلي چې د کشندې - پل برق سړک د بلخ ولایت له مهمو مواصلاتي لارو څخه... **۳مخ**

سر مقاله

بازسازی زیر ساخت ها؛ زمینه را برای ادغام بهتر افغانستان در تجارت جهانی فراهم می سازد

بازسازی، نوسازی، احیا و توسعه زیرساخت ها در افغانستان، مانند شاهراه کابل _ قندهار، کابل _ جلال آباد، شاهراه سالنگ ها، اعمار پل های هوایی در شهرهای بزرگ مانند هرات و کابل، احداث و توسعه فابریکات تولیدی، اعمار جاده ها و راه های مواصلاتی، کانال قوشتیپه و صد ها فعالیت دیگر، نقش اساسی و کلیدی در رشد اقتصادی، کاهش فقر و ایجاد اشتغال و خود کفایی کشور دارد، زیرا این امر علاوه بر استحکام پایه های نظام، سبب تحکیم ثبات منطقه، بازگشت اعتماد ملی، تسهیل تجارت، ایجاد اشتغال و... می شود و در پهلوی این ویژگی ها بازسازی شاهراه ها وخطوط مواصلاتی، همچنان پروژه های بزرگ مدیریت آب نظیر کانال قوشتیپه، شریان های حیاتی و اقتصادی کشور اند که سبب اتصال ولایت ها، ارتقای ترانزیت منطقه، توسعه کشاورزی و رشد اقتصادی کشور می گردد، زیرا جنگ های تحمیلی و نیابتی بیش از چهار دهه گذشته، زیرساخت های اقتصادی، مواصلاتی، فابریکات تولیدی و... را کاملاً ویران کرده که با تسلط دوباره امارت اسلامی بر افغانستان و تأمین امنیت و ثبات سراسری در این کشور، زمینه و انگیزه برای عمران و بازسازی زیر ساخت ها و تأسیسات به وجود آمده و در مدت نزدیک به پنج سال گذشته نیز کار های، اساسی، ارزنده، مفید و قابل لمس انجام گرفته که در مقایسه به بیست سال رژیم گذشته، قابل مقایسه نمی باشد، زیرا مسئولان در امارت اسلامی با درک از وضعیت موجود، تحقق و تطبیق برنامه های بازسازی و پروژه های عمرانی، از طریق جذب نیروی کار مستقیم را ، نه تنها در کاهش بیکاری و بهبود وضعیت معیشتی خانواده ها مفید می دانند، بلکه بازسازی زیر ساخت ها، اعتماد سرمایه گذاران داخلی و خارجی را برای مشارکت در اقتصاد افغانستان، نیز جلب می کند و مهمتر از همه، زمینه را برای ادغام بهتر افغانستان در تجارت جهانی فراهم می سازد.

حالا که در هر گوشه افغانستان، پروژه های حیاتی و عمرانی ملی و منطقه‌ای مانند؛ پروژه گاز تاپی، پروژه کاسا یک هزار، توسعه و بهسازی شاهراه ها و توسعه فابریکات سمنت ، اعمار پل های هوایی، توسعه جاده های فرعی و عمومی و صد ها پروژه عمرانی دیگری در جریان است، چه بهتر که شهروندان کشور نیز در بازسازی، توسعه... **ص۳**

خوست کې د معتادینو ۸۰ بستریز روغتون پرانیستل شو

د خوست ولایت د عامې روغتیا ریاست اړوند د معتادینو د درملنې د ۸۰ بستریز روغتون نوې او معیاري ودانۍ د شاوخوا ۶.۵ میلیونو افغانیو په لګښت د روغتیا نړیوال سازمان په مالي ملاتړ بشپړه او کټې اخیستنې ته وسپارل شوه. د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو مرستیال مولوي عبدالولي حقاني د پرانیستې په مراسمو کې وویل، چې د دې ودانۍ په جوړېدو سره به معتادو ناروغانو ته معیاري او خوندي روغتیایي خدمات وړاندې شي.

برای ۸۰۸ خانواده عودت‌کننده در پنج ولایت زمین رهایشی توزیع شد

کمیته اسکان دایمی و توزیع زمین کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین اعلام کرده است که تاکنون ۶۰ هزار و ۳۵۴ نمره زمین رهایشی برای خانواده‌های عودت‌کننده در بخش‌های مختلف کشور توزیع شده است. ملا حمدالله فطرت، معاون سخنگوی امارت اسلامی افغانستان، در صفحه ایکس خود نوشته است که در تازه‌ترین اقدام، برای ۸۰۸ خانواده عودت‌کننده در ولایت‌های ننگرهار، فراه، فاریاب، نیمروز و زابل زمین‌های رهایشی توزیع شده است. وی افزوده است که روند توزیع زمین برای خانواده‌های عودت‌کننده همچنان ادامه دارد و تلاش‌ها برای فراهم‌سازی زمینه اسکان دایمی آنان در سراسر کشور جریان دارد. **ص۳**

بدخشان کې د دوو پروژو چارې بشپړې شوې

د بدخشان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسئولین وایي، چې د شهداء ولسوالۍ په وینج کلي کې د ۳.۶ میلیونو افغانیو په لګښت یو کانال او استنادي دېوال جوړ او کټې اخیستنې ته وسپارل شول. د یاد ریاست د پلان او همغږۍ عمومي مدیر کیکاوس تکساري ویلي، چې دغه پروژې د دغه ریاست د طبیعي سرچینو آمریت په همغږۍ د «مېشن ایست» مؤسسې له لورې... **۳مخ**

کار قیرریزی دو سرک مهم در ولسوالی گذره هرات تکمیل شد



کار قیرریزی دو سرک مهم پشتون‌زرغون و سبزواری در ولسوالی گذره ولایت هرات با هزینه نزدیک به ۱۷ میلیون افغانی از بودجه انکشافی شهرداری این ولسوالی تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شد؛ پروژه‌ای که مسئولان آن را گام مؤثر در بهبودرفت‌وآمد، حمایت از فعالیت‌های صنعتی و توسعه زیرساخت‌های شهرک صنعتی هرات می‌دانند. مفتی جمال‌الدین مسرور، شهردار ولسوالی گذره، در این مراسم افتتاحیه در گفتگو با رسانه ها گفت که این پروژه‌ها به‌گونه معیاری اجراء شده و طول سرک سبزواری ۸۰۰ متر و سرک پشتون‌زرغون ۵۰۰ متر است. وی افزود که با تکمیل این پروژه‌ها، سهولت‌های رفت‌وآمد برای باشندگان محل، وسایط نقلیه و صنعت‌کاران به‌طور قابل ملاحظه‌ای افزایش یافته و زمینه دسترسی بهتر به شهرک صنعتی فراهم شده است. به گفته شهردار گذره، در امتداد این سرک‌ها شمار زیادی از کارخانه‌های تولیدی شهرک صنعتی هرات... **ص۳**

د پاکستاني رژیم د چارواکو له ناوړه چلند څخه د افغان کډوالو شکایت

له پاکستان څخه د تورخم له لارې راستانه شوي افغان کډوال د پاکستاني پولیسو له ناوړه چلند او سختو محدودیتونو شکایت کوي.

کډوال وایي: پاکستاني چارواکو نه یوازې د وتلو لپاره لنډ ضرب‌الاجل ورکړی، بلکې ان له خپلو خپلوانو او کاونډیانو سره یې د مخه ښې فرصت هم نه دی ورکړی. د دوی په وینا، په وروستیو کې یې کورونه ور نړول شوي، سپکاوی ورسره شوی او له سختو فشارونو وروسته اړ شوي چې هېواد ته راستانه شي. په ورته وخت کې د ننګرهار سیمه‌ییز چارواکي وایي: هره ورځ د تورخم له لارې له ۵۰۰ تر ۸۰۰ کورنیو پورې هېواد ته راستنېږي او د خدمتونو لپاره ټولې اړوندې کمپټې فعالې دي.

په نظام او اداره کې د مکافاتو او مجازاتو ارزښت

مولوي نورالحق مظهري

په نظام، حکومت او هره اداره کې مکافات او مجازات د بریالیتوب له مهمو عواملو څخه شمېرل کېږي، ځکه الله تعالی انسان داسې پیدا کړی چې د ښو کارونو په کولو سره د ستاینې او قدردانی مراتب خوښوي او له مجازاتو څخه عبرت اخلي. کله چې د یو نظام مسئولین د خپلو کارکوونکو، مأمورینو او خدمتکارانو د ښه کار ستاینه وکړي او هغوی وهڅوي، نو دا کار د هغوی د لا زیات اخلاص، فعالیت او نوښت سبب کرځي. برعکس، که د ښه او بد کار ترمنځ هېڅ توپیر ونه شي، نو د خلکو د کار کولو انګېزه کمزورې کېږي. همداسې که مجرم ته مجازات ورکړل شي نه تنها دا چې مجرم به خپله تنبیه شي، بلکې نور کسان به هم له ده څخه عبرت واخلي او هېڅ وخت به هغه کار ته لاس وا نه چوي چې له املـه یې دغه انسان ته مجازات ورکول شوي دي.

په اسلام کې هم تشویق او مکافات ته ځانګړې پاملرنه شوې ده. رسول الله ﷺ د خلکو ښه کارونه ستایل، د هغوی فضیلتونه یې بیانول او د خیر په کارونو کې یې هغوی هڅول. دا طریقه د اسلامي رهبرۍ یوه مهمه ځانګړنه ده.

په حدیث شریف کې راځي:

ژباړه: هغه څوک د الله تعالی شکر نه شي اداء کولای کوم چې د خلکو شکر نه شي اداء کولای. (سنن ابي داود: ٤٨١٣)

په بل حدیث کې راځي:

ژباړه: په خلکو کې د الله تعالی ډېر شکر هغه چا اداء کړی دی چې د خلکو شکر یې ډېر اداء کړی وي. (السنن الکبري للبیهقي:١٢٣٩١)

له دواړو احادیثو څخه داسې ښکاري چې له انسانانو څخه منه او تشکر ډېر ارزښت لري، آن تر دې چې تر څو انسان له نورو انسانانو څخه شکر اداء نه کړي تر هغه پورې له الله تعالی څخه شکر نه شي اداء کولای، نو کوم څوک چې له چا سره په اداره کې خدمت کوي او ښه کار یې کړی وي، د دې حدیث پر بنسټ تر خپله وسه دې له هغه څخه مننه وکړي او د تشویق لپاره دې په ستاینه او مکافات باندې ونازوي.

په حدیث شریف کې راځي:

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: که څوک له تاسې سره نېکي وکړي، نو بدله یې ورکړئ؛ که چېرې تاسو داسې څه ونه مونډل چې بدله پرې ورکړی، نو د هغه ستاینه وکړئ تر څو تاسې پوهېږئ چې د هغه بدله مو ورکړې ده. (مسند الطیالسي: ٢٠٠٧)

له دې حدیث څخه له ورایه ښکاري چې کله یو څوک له مورد سره ښېګڼه کوي، مورد یې باید بدله ورکړو، که مو په بدله کې د کوم شي ورکول په وس نه و، بیا نو باید د هغه ستاینه وکړو تر څو چې د هغه حق اداء کولای شو؛ کوم څوک چې زمورد تر امر لاندې کار کوي د هغه له خوا په کار کې صداقت او اخلاص که له یوې خوا د هغه لپاره د مسئولیت سم اداء کول دي، له بلې خوا له مورد سره د هغه احسان دی څکه چې هغه د وظیفې د سم سر ته رسولو په ذریعه ستا باور خاوري نه کړ او ستا له خوا د ده په تاکنه کې یې ستا غوراوی له خطا او اشتباه څخه وژغوری، نو څکه ته باید له ده سره ښه وکړې، تشویق یې کړې او نور یې هم کار ته و هڅوې تر څو دی د نور کار کولو لپاره نوره انرژي واخلي او نور کسان هم د ده په لیدلو سره ښه کار کولو ته تشویق شي.

یو چا ته مکافات ورکول او د هغه تشویق کول په ګنو طریقو سره کېدلای شي؛ په رتبه کې پورته کول، مالي مرسته کول، ستاینلیک ورکول، په شخصي یا عمومي ډول یې ستاینه کول هغه څه دې چې هغه وربانديې تشویقېدلای شي او که په دغو کارونو کې یو لا هم د چا په وس نه وي، نو بیا دعا خو ورته کولای شي چې دعا هم د مننې او ستاینې یوه طریقه ده لکه په لاندې حدیث کې چې راځي:

ژباړه: که څوک له تاسې سره نېکي وکړي، نو بدله یې ورکړئ؛ که چېرې تاسو داسې څه ونه مونډل چې بدله پرې ورکړی، نو د هغه لپاره دعا وکړئ تر څو تاسې پوهېږی چې د هغه بدله مو ورکړې ده. (سنن نسائي: ٢٥٦٧)

کله چې په جیش العسره کې عثمان رضي الله عنه د مسلمانانو لښکر سمبال کړ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: له دې وروسته چې عثمان هر کار وکړي تاوان نه ورته کوي، دا خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم پټولای شوه، خو څکه یې ښکاره کړه چې دا یو ډول مکافات او تشویق و د حضرت عثمان رضي الله عنه لپاره.

یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلو صحابه وو څخه پوښتنه وکړه چې نن چا روژه نیولې ده؟ ابوبکر رضي الله عنه وویل: ما نیولې ده، بیا یې وویل: څوک نن جنازې ته تللی دی؟ ابوبکر رضي الله عنه وویل: زه تللی یم، بیا یې وویل: نن مسکین ته چا ډوډۍ ورکړې ده؟ ابوبکر رضي الله عنه وویل: ما ورکړېده، بیا یې وویل: نن څوک د ناروغ پوښتنې ته تللی دی؟ ابوبکر رضي الله عنه وویل: زه تللی یم، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دغه کارونه په هېچا کې نه سره راټولېږي، مګر دا چې هغه جنت ته ځي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره پټولای شوه، خو څکه یې ښکاره کړه چې د دې کارونو فضیلت ښکاره شي،... ۳مخ

د چنګاښ ۲۶مه؛ پر شاهي نظام د سردار محمد داوود خان سپینه کودتا

شېر محمد امیني ستانکزی

د افغانستان په معاصر سیاسي تاریخ کې د چنګاښ ۲۶مه له هغو مهمو ورځو څخه ده، چې د هېواد د واکمنۍ بڼه یې بدله کړه. له دې تاریخي بدلون څخه ۵۳ کاله تېرېږي. په همدې ورځ (د ۱۳۵۲ هجري لمریز کال د چنګاښ پر ۲۶مه) سردار محمد داوود خان د یوې سپینې کودتا له لارې واک په لاس کې واخیست او د افغانستان د شاهي نظام ځای یې جمهوري نظام ته ورکړ.

سردار محمد داوود خان، چې د پاچاه محمد ظاهر شاه د تره زوی او د هغه د سلطنت پر مهال صدراعظم هم پاتې شوی و، د هېواد د پرمختک، اقتصادي پیاوړتیا او د یو قوي مرکزي دولت د جوړېدو پلوی و. ده باور درلود، چې د خپلو موخو د عملي کېدو لپاره باید د هېواد سیاسي جوړښت بدل شي، نو ځکه یې د شاهي نظام د پای ته رسولو پرېکړه وکړه.

د چنګاښ د ۲۶مې بدلون له وینې توېېدو پرته ترسره شو، په همدې سره د افغانستان څو لسیزې پخوانی شاهي واکمنۍ پای ته ورسېده او د هېواد په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره جمهوري نظام اعلان شو. دغه بدلون نه یوازې د وخت سیاسي معادلې بدلې کړې؛ بلکې د راتلونکو کلونو پر سیاسي بهیر یې هم ژورې اغېزې پرېښودې.

له جمهوریت وروسته سردار محمد داوود خان د دولت د پیاوړتیا او د هېواد د پرمختک لپاره بېلابېل اصلاحاتي پروګرامونه پیل کړل. د اقتصاد، صنعت، کرنې، زېربناوو او عامه خدمتونو پراختیا یې د حکومت له مهمو لومړیتوبونو څخه وه. د ښوونې او روزنې په برخه کې یې هم د تعلیمي بنسټونو د پیاوړتیا او د لوړو زده‌کړو د فرصتونو د پراخولو لپاره عملي هڅې وکړې.

د کورنیو او بهرنیو چارو په ډګر کې یې هم خپلواک او څرګند دریځ درلود او د افغانستان د ملي حاکمیت، خپلواکۍ او ملي ګټو د خوندي ساتلو هڅه یې کوله. د همدې سیاستونو له املـه نومورې د افغانستان د معاصر تاریخ له اغېزناکو سیاسي ټکرو څخه ګڼل کېږي.

د نومورې حکومتي دورې یوازې پنځه کاله دوام وکړ او په ۱۳۵۷ هجري لمریز کال د غویي په اوومه نېټه د خلق او پرچم ګوندونو کرغېړنه کودتا وکړه، چې په ترڅ کې یې سردار محمد داوود خان له خپلې کورنۍ سره په ارک کې شهید شو او واک د یادو ډلو لاس ته ولوېد.

دغه بدلون د افغانستان لپاره د یوې نوې او اوږدې بې‌ثباتۍ پیل و. له هغې وروسته هېواد د کورنیو جګړو، سیاسي کړکېچونو او بهرنیو لاسوهنو له سختو پراوونو تېر شو او د څو لسیزو لپاره یې د جګړو او ناامنۍ دروند بار پر اوږو واخیست.

نن، د چنګاښ د ۲۶مې تاریخي پېښې له تېرېدو وروسته، د افغانستان د معاصر تاریخ دغه فصل لا هم د څېړونکو او تاریخ پوهانو د بحث موضوع ده. د دې ورځې ارزونه د تاریخي پېښو، سیاسي شرایطو او د هغه وخت د واقعیتونو په رنا کې د پېلامیلو لیدلوروله مخې کېږي.

د افغان کډوالو پر ضد د پاکستاني رژیم د غیرانساني او ناوړه چلند پر وړاندې د نړیوالو چوپتیا

حیات الله حلیم

د ضد کلمه مو په عنوان کې څکه ذکر کړه چې له اسرائیلو، امریکا او پاکستان پرته هېڅ بني بشر د خپل (همنوع) په مقابل کې دومره ظالمانه تشدد نه کوي، لکه نن یې چې د افغان کډوالو په مقابل کې تطبیق ته تورو پنجابیانو په ټول پاکستان کې ملا تړلې، چې د نړۍ په تاریخونو کې یې پېلکه نه ده سجل شوې، متل دی چې وایي: «هرڅه چې له حد نه تېر شي، نو رسوا شي» خو نن وینو چې پنجابي صوبه دارانو د افغان کډوالو په مقابل کې داسې رسوایي ته ملاتړلې چې ټوله نړۍ او په تېره بیا د ملکرو ملتونو د بشري حقونو سازمانونه یې په شور او غوږ را وستلي دي، څکه دوی سر لري او غوږونه ، خو په خپلو غوږونو د هېڅا د انصاف او نرمنبت خبره نه اوري او نه هم په دې ګمان خپل سر په ګرېوان کوي چې په نن پسې سبا نشته، د نړۍ نظامونه بدلېږي را بدلېږي، هرعمل عکس العمل لري، د هېڅا کړنې د ویښو ملتونو له نظره پټې نه پاتې کېږي، زرګونه کاله د مخه پر یونان د فارس د هخامنشي کورنۍ ظلمونه او بېرته د یوناني سکندر د غچ اخیستلو یادونه تر نن پورې د تاریخ په پانو کې تازه دي، نو د افغان کډوالو په مقابل کې د پنجابي حکامو دا ناروا‌وې به له چا هېرې شي، نن ټوله نړۍ شاهده ده چې د افغان کډوالو پر ضد د بشري حقونو پولې د پاکستاني حکامو له خوا ونړول شوې او پنجاب په ښکاره د افغان کډوالو پر ضد د اسرائیلو پر پلە پرمخ روان شو.

دا هم څرګنده شوه چې په منځنۍ ختیځ کې د پاکستان په شمول کفري نړۍ (امریکا او اسرائیلو) هغه نخرې وکړې چې د تاریخ پانه به پرې شرمېږي، څکه دوی د فلسطین، افغانستان او ایران د خپلو یو واحد دریځ خپل کړی، دا څکه چې اوس یوازې په نړۍ کې همدا درې واحدونه د اسلام د سپېڅلي دین په ننګه ټینګ ولاړ دي، نو څکه دوی پتیلي چې د یادو درېوارو هېوادونو په مقابل کې د ترحم او عاطفې دروازې تړلې وساتي.

په هرصورت زمورد خبره له پاکستان څخه د افغان کډوالو د ابستلو او شړلو په پروسه کې د پاکستان پر ظلم تشدد او ناوړه چلند را تکیه ده چې د ټولو نړیوالو موازینو او نړیوالو بشري حقوقو خلاف یې د نړیوالو تر ستر‌ګو لاندې په ښکاره پر افغان کډوالو تحمیلوي او د هېڅا خبره نه منې، خو په یوه حقیقت د دوی سر باید خلاص وي چې په افغانستان کې امپراتوري پر ګونډو شوې، د افغانستان خاوره همدا اوس هم د تېرې کوونکو د اندامونو له هډوکو ډکه ده، افغانستان څو ځله اشغال شوی، خو حکومت پرې چا نه دی کړی، ګودن به وي هغه څوک چې افغانستان ته یې خام خیالونه په ذهن کې را کرځي.

داچې د افغان کډوالو پر ضد د پنجاب د اوسني غیرانساني ناوړه چلند په وړاندې د پاکستاني عام ولس (ملت) رایه هم شته، که نه؟ ډېر ځله داسې اوربدل شوي چې د پاکستان سیاسیونو او قومي متنفذینود افغان کډوالو په ابستلو کې د نرمنبت غږ پورته کړی او وړاندیز یې کړی چې له افغان کډوالو سره له مدارا باید کار واخیستل شي، له دې معلومېږي چې د پاکستان په حکومت کې یوه خاصه او ځانګړې داسې کړۍ شته چې نه یوازې افغان کډوال څوروي، بلکې له پنجابي نفوس پرته د خپل ملک له مېشتو قومونو سره یې هم سلوک انساني نه دی، څکه هر څه نه یوازې مورد، بلکې ټوله نړۍ د سر په ستر‌ګو وینې.

ملامت به یې څکه نه بولو چې پنجابي ریاست د جوړښت له تاریخه تر نن پورې په سیمه کې د تشدد او نا امنۍ پروژې اخیستې اوعملي کړې یې دي، نو څکه یې د افغان کډوالو په وړاندې هم انساني کرامت داسې ترپښو لاندې کړی چې ټوله نړۍ پرې لعنت وایي.

همدا اوس د تورخم په مربوطاتو کې هغه پند غالی چې د افغان کډوالو د را ابستلو لپاره تر شنه آسمان لاندې د دوی په اصطلاح د (توکن) اخیستلو په پلمه تر ۴۰ درجې ګرمۍ لاندې د افغان ماشومانو، تورسرو او بوډاګانو په شمول تیار شوی او افغان کډوال د معطلي د زجر او څور شپې پکې سبا کوي، دا به د کوم انسانیت او ښه سلوک بېلګه وي چې پاکستان د افغان کډوالو په مقابل کې خپله کړې؟ لازمې آسانتیاوې لکه د سرسیورۍ، د پاکو اوبو عدم موجودیت، د بد رفت سیستم نشتوالی آیا د پنجابي حاکمانو په اند د بشري حقوقو د تعریف بېلګه همدا ده؟

اوس جوته شوه چې د افغان کډوالو په اړه د پاکستان د مظالمو د مخنیوي په اړه د ملګرو ملتونو د کډوالو کمېشنري UNHCR د کډوالو نړیوال سازمان IOM او ترڅنګ یې د بښنې نړیوال سازمان Amnesty international دا ټول پاتې راغلي، څکه خبره یې نه منل کېږي او هغه صلاحیت چې دوی یې د خپلې اداري د قوانینو په چوکاټ کې لري په پاکستان کې هېڅکله نه چلېږي، عجیبه داده چې دوی خپله دنده یوازې او یوازې د راپورونو په جوړولو ادا کوي او نور خو دادي ښکاري چې د کډوالو د حقوقو او انساني کرامت په خوندي کولو کې پاتې راغلي دوی د خپلې ناکامۍ لپاره بله عجیبه پلمه هم لري او وایي چې د دولتونو حاکمیت یو مهم اصل دی، نړیوال سازمانونه یوازې کولی شي سپارښتنې وکړي، را پورونه جوړ کړي او سیاسي فشار وارد کړي، خو هېڅکله نشي کولای یو دولت په زور د خپلې پالیسۍ بدلولو ته اړباسي، یا په بل عبارت په ډېرو مواردو کې دوی د دولتونو د پرېکړو بدلولو قانوني یا عملي خواک او صلاحیت هم نه لري، نو زمورد پوښتنه بیا دا شوه چې د دې پالیسي جوړوونکې اداري دنده بیا کومه شوه؟ چې د خپل ماموریت په چوکاټ کې د خپل سازمان د موخو او اهدافو د عملي کولو توان نه لري، ښه به داوي چې خپل بنسټ وترې او په آرامه په خپل کور کښېني، کله چې یو سازمان جوړېږي، که ملي وي یا نړیوال، باید د ملګرو ملتونو د غړو هېوادونو په مرسته د اهدافو په عملي کولو سره خپله داعیه د عدالت د تطبیق پراو ته ورسوي، څکه حق هم دادی که دا توان ونه لري بیا هم وایو چې ښه به دا وي چې د خپل سازمان دروازه وترې او خپلو کورونو ته ولاړشي.

۳۶۰خبرې

امین وردګ / نهۀ شپېتمه برخه

۳۵۱مه خبره / پېښه یو زېرې ګڼه!

پۀ ظاهره خپلې بدې پېښې د یوۀ مثبت بدلون اصل وي! نو تۀ د دې پر ځای چې ناخوالو ته زړۀ وخورې مغز پۀ کار واچوه او وخت سم مدیریت کړه؛ د الله ﷻ له کارونو څوک خبر دي؟! شاید پۀ همدغو ناخوالو کې ستا روښانه راتلونکی نغښتی وي چې اوس خپل زړۀ پکې خورې.

۳۵۲مه خبره / د لویانو پوهه او د ماشومانو مینه

ای کاش چې یا خو لویان داسې عاشقان کېدلی لکه ماشومان او یا ماشومان داسې پوهېدلی لکه لویان.

۳۵۳مه خبره / قناعت او تلاش!

قناعت یوازې دا نۀ دی چې څۀ لرې همغه کافي بولې او د زیادت کوښښ یې نۀ کوې، بلکې اصلي قناعت خو دا دی چې پر خپل قسمت راضي و اوسې او د پرمختک تلاش ته شا نۀ کړې؛ اما کۀ داسې نۀ کوې نو له تا خو هغه د سارا وچ کلک کانی دوه واره ښۀ دی.

۳۵۴مه خبره / جنګي اخلاق

جګړه مه پیلوه، خو چې درسره پیل یې کړه بیا تر هغې شا مه ور اړوه چې شا یې نۀ وي در اړولې او چې کله یې شا در واړوله، نو بیا کذار مه پرې کوه، چې دښمن دې کله ولوېد، نو یا یې پرېږده او کار مه پرې لره او یا لاس ورکړه چې راپورته شي بیا یې ووهه؛ مطلب دا چې پۀ ځملاستو یې مه وهه! د تپې دښمن داسې درملنه کوه لکه د خپل ملګري دې چې کوې، له بندي سره داسې چلند او حسنه سلوک کوه لکه مېلمه دې چې وي، چې پوه شوې دښمن دې ماتې وخوړه، نو لاره ورکړه چې ووزي او کۀ دې ماتې وخوړه، مردانه اعتراف وکړه چې اوس مات شوم، خو بل وخت بۀ سره کورو! هېڅکله هم له مریضانو، بوډاګانو، ښځو او ماشومانو سره جګړه مه کوه؛ یانې کذار مه پرې کوه، کۀ څۀ هم چې جګړه به درسره کوي، بلکې یوازې دفاع کوه! مګر هغه مهال چې ناچار او کلک مجبور شې.

د یوۀ پۀ بدل کې بل مه وهه، هېڅکله هم له دښمن سره غیر اخلاقي چلند مه کوه؛ د هغۀ ابرو مه وړه، ناموس او دروازې ته یې سپک مه کوره، ظلم مه پرې کوه، دی ووژنه خو شخصیت یې مه وژنه، نامردي او خیانت مه ورسره کوه، اولاد یې پۀ بدو کارونو مه روږدی کوه، بلکې پۀ دې اړه مرسته هم ورسره وکړه چې اولاد دونه یې صالح جوړ شي، څکه چې پۀ دغۀ کار کې ستا هم ګټه ده! حتی کۀ دې بې ځایه ولید، نو تهدید یې کړه او ورته ووایه چې دا کار مې څکه نۀ دی درته خوښ چې عزت ته دې زیان رسوي... نو دا جنګي اخلاق دي چې دښمن به پۀ ژوندون ستا پر شرافت اعتراف کوي او چې کله مړ شې، نو به دې د قبر احترام ساتي او هر ځای به ستا مېړانه یادوي! مطلب دا خبرې هېڅکله هم له یاده مه باسه.

۳۵۵مه خبره / استاذ خو باید لکه پلار داسې وي!

استاذ عیناً لکه پلار داسې دی او باید ځان همداسې ثابت کړي؛ یانې چې شاګردان یې هم مینه ورسره ولري او هم ترې وډار شي؛ ښه نو هغه بدبخت استاذ چې له خپل شاګرد سره غیر اخلاقي چلند کوي او ناوړه استفاده ترې کوي، ځۀ ورته وایئ؟!.

افغان اعلانات

اطلاعیه اجاره دهی

وزارت ترانسپورت و هوانوردی، (۱۶) محل ذیل را (۱۰۰) جریب، (۲۰۰) متر مربع، (۲۵۰) متر مربع، (۳۰۰) متر مربع، (۲۰۰) متر مربع، (۶۰۰) متر مربع، (۳۰۰) متر مربع، (۱۵۰) متر مربع، (۶۰۰) متر مربع، (۳۰۰) متر مربع، (۲۶۰) متر مربع، (۲۰۰) متر مربع، (۱۵۰) متر مربع، (۲۵۰) متر مربع، (۲۱۰) متر مربع و (۲۰۰) متر مربع زمین سفید را در ساحه ترمینل ترانسپورتی روند نوبت بین الولایتی جنوب، ناحیه بیستم دشت سقابه شهر کابل به اجاره میدهد.

اشخاص که خواهش به اجاره گرفتن مساحت متذکره را از طریق پروسه مزایده داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت (۱۰) روز درخواست های خویش را به آمریت املاک ترانسپورت جاده ای، ریاست املاک و خدمات، وزارت ترانسپورت و هوانوردی واقع انصاری وات کابل سپرده و شرطنامه را اخذ نمایند.

***

اطلاعیه لیلام

به تعداد ۲۵ عراده وسایط داغمه مختلف النوع ریاست تنظیف،تحت نظر هئیات موظف به بلند ترین نرخ به نفع امارت اسلامی افغانستان در معرض لیلام قرار داده می شود، شرکت ها، سازمان ها و اشخاص انفرادی که خواهش اشتراک در پروسه داوطلبی را داشته باشند، می توانند به تاریخ ۱۴۰۵/۵/۱۰ ساعت ۹ بجه قبل از ظهر به ریاست تنظیف شاروالی محترم کابل واقع چهار راهی سر سبزی مقابل هوتل شام پاریس مربوطه ناحیه چهارم تشریف آورده، پانزده فیصد تضمین قبل از آغاز پروسه لیلام از سر جمع قیمت نقدا اخذ می گردد.۳۶۶۱

***

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

محترم جلال الدین فرزند سراج الدین موازی (۷۷۳.۵) متر مربع ملکیت ریاست باربری مرکز را به کرایه ماهوار فی متر مربع مبلغ ۱۷ افغانی به مدت ۲ سال به کرایه می‌گیرد.

اشخاص و شرکت هایکه خواهش مزایده را داشته باشند درخواستی های خویش را از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ یوم به آمریت اداری و خدمات ریاست بار بری مرکز واقع شمال میدان هوایی بین المللی کابل جوار سرک عمومی قصبه ارایه نمایند شرطنامه را ملاحظه و تضمین اخذ می گردد.۳۶۷۳

***

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

تعمیر سه منزله که در محوطه شرکت امارتی مسلخ به طول (۲۸.۸) متر و عرض (۱۰.۸) متر به ارتفاع (۱۱) متر و یک اغیل به ابعاد (۳*۸) متر و عرض (۳*۱۹) متر طول دارد تخریب می گردد.

شرکت ها ، موسسات و اشخاص انفرادی که خواهش تخریب آنرا داشته باشند با درخواست های خویش بعد از نشر اعلان الی ۷ یوم کاری می توانند به مدیریت عمومی تدارکات شرکت امارتی (مسلخ) واقع چهار راهی مکروریان ها بسپارند شرطنامه را ملاحظه تضمین نقدا اخذ می گردد. ۳۶۷۲

***

اطلاعیه لیلام

موسسه تغییر در نظر دارد به تعداد ۲۶ قلم اجناس استهلاک شده را از طریق پروسه لیلام به فروش برساند. اشخاص و شرکتهایکه خواهش خریداری آنرا داشته باشند به تاریخ ۱۴۰۵/۵/۱۵ روز دوشنبه ساعت نه قبل از ظهر به مقر موسسه OTSSO مراجعه نمایند پول تضمین ۱۵ فیصد قبل از شروع داوطلبی نقدا اخذ می گردد. آدرس بین چهار راهی سر سبزی و لب جر جهت معلومات مزید به شماره تماس : ۰۷۸۴۸۸۳۵۴ به تماس شوند.۳۷۰۵

***

اعلان مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی مربوط ناحیه ۵ نیاز بیک به اسم غلام ره بی ولد غلام رحمن مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۶۵۶

***

اعلان مفقودی

یک جواز سرمایه گذاری حصوصی شرکت ساختمانی وتولید مواد ساختمانی وسرکسازی دایمند ستار دارای نمبر D-29897 به اسم احمد زبیر ولد سراج الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۶۶۸

اعلان داوطلبی مؤسسه داکار

DACAAR

مؤسسه خیریه داکار (اعلان داوطلبی برای تهیه گوساله ماده برای پروژه NORAD در ولایات فاریاب و جوزجان) را در پروسه ذیل به داو طلبی میگذارد. لهذا از تمام علاقمندان واجد شرایط تقاضا بعمل میاید تا آفر های سربسته شانرا قبل از معیاد تعین شده به دفتر مرکزی داکار بسپارند.

DACAAR ITB 24 PRF-1020 to 1026/NORAD/2214-NMFA/NFJ1.10/07.2026

علاقمندان واجد شرایط آفرهای داوطلبی خویش را باید الی تاریخ ۰۵ اگست ۲۰۲۶ مطابق ۱۵ اسد ۱۴۰۵ ساعت ۴:۰۰ عصر به شعبه لوجستیک دفتر مرکزی مؤسسه داکار واقع پروژه تایمنی، پایکوب نصوار، سرک 12 قلعه فتح الله، ولایت کابل بسپارند.

فورم قیمت گذاری و اعلان داوطلبی را از صفحات انترنیتی ذیل میتوانید بدست آورید:

www.Dacaar.org

www.Acbar.org

نمبر تیلفون: ۰۰۹۳۲۰۲۲۰۱۷۵۰

علماء، قومي مشران او رسنۍ دې د ټولنې...

شیخ الحدیث محمد خالد حنفي وویل چې په افغانستان کې شاوخوا نیمه پیړۍ د هېواد دښمنانو پر فتنې او فساد کار کړی او د هغو له منځه وړل هم وخت ته ارتیا لري. د ده په وینا، د اصلاح بهیر په تدریجي ډول روان دی. نوموړي له مطبوعاتو، علماوو او قومي مخورو وغوښتل چې سره یو موتی شي او زیاته یې کړه: که دا دري قشرونه سره متحد وي، دښمن به نه درز پیدا کړای شي او نه به خپل پلانونه عملي کړای شي.

ښاغلي حنفي همدارنګه وویل: په اسلام کې که څوک تېروتنه وکړي، لومړی ورسره په اخلاقي او تربیوي ډول چلند کېږي او که بیا هم خپلې کړنې تکرار کړي، نو له قانون سره مخ کېږي. د ده په وینا، دا ځانګړنه یوازې اسلام لري.

د همدې وزارت د شکایتونو اوربدلو مرستیال، مولوي صدیق الله له کډونوالو وغوښتل چې د وزارت له فعالیتونو سره همکاري وکړي او د غونډې پیغامونه خپلو سیمو ته ورسوي.

نومورې وویل: تمه لري چې خلک به د پخوا په څېر له وزارت سره همکاري وکړي او د ټولنې د اصلاح په برخه کې به خپل مسئولیت ادا کړي. د ده په وینا، د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو مخکې په ښارونو کې وضعیت مناسب نه و، خو اوسنی بدلون د دې وزارت د ترسره شویو هڅو پایله ده. ده زیاته کړه چې وزارت په یوازې ځان خپلې موخې نه شي ترلاسه کولی او د ولس، رعیت، علماوو، استادانو، انجنیرانو او مبلغینو همکاري ته ارتیا لري، څو د ټولنې د اصلاح او د اسلامي ارزښتونو د پیاوړتیا چارې لا اغېزمنې شي.

غونډه کې د کابل د علماوو په استازیتوب محمد اسماعیل حنفي هم خبرې وکړې او ویې ویل چې علماء دې له خوانانو سره د علمي او اصلاحي مجلسونو جوړولو ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

ده د یاد وزارت له محتسبینو وغوښتل چې د ټولنیزو رسنیو د پراخ نفوذ له امله په خپلو چلندونو کې دېر احتیاط وکړي، ځکه د ده په وینا، په ټولنیزو رسنیو کې یوه وړه موضوع هم لویه او یوه لویه موضوع هم کوچنۍ ښودل کېدای شي.

په پای کې د بامیانو، پروان، پنجشېر، کابل، میدان وردګو او دایکندي ولایتونو قومي مخورو، علماوو او د مطبوعاتو مسئولینو هم خپلې ویناوې وکړې. دوی ټینګار وکړ چې د کلیو ملکان باید له تعلیم یافته او ديني علماوو څخه وتاکل شي او د ماشومانو فکري روزنې او اصلاح ته ځانګړې پاملرنه وشي. د دوی په وینا، په لرې پرتو سیمو کې دې د کتاب لوستلو سیالۍ ترسره او په ولایتونو کې دې عامه کتابتونونه جوړ شي، څو د مطالعې فرهنګ او فکري اصلاح پراختیا وموميې.

د مطبوعاتو مسئولینو وویل چې افغاني رسنیو د امربالمعروف په برخه کې خپل مسئولیت ادا کړی او په دې برخه کې يې پراخ پوهاوی خپور کړی دی. دوی له یاد وزارت څخه وغوښتل چې خپلې لاسته راوړنې او فعالیتونه په مستند معلوماتو او اسنادو ورسره شریک کړي، ترڅو رسنۍ وکولای شي هغه په دقیق او باوري ډول له هېوادوالو سره شریک کړي. **تاج محمد بهار**

ننګرهار کې د نشه‌يي...

د نشه‌يي توکو پر وړاندې د مبارزې مدیریت د منسوبینو د کشفي معلوماتو پر بنسټ، د شینوارو ولسوالي په «۲۷ ویالې» سیمه کې يې عملیات کړي، چې په ترڅ کې يې له یادو ځلورو تنو څخه ۴۴ زره او ۳۷۶ «زیکب» نشه‌يي ګولۍ، ۲۰ کیلو ګرامه تریاک او ۲۹ کیلو ګرامه خام چرس کشف او ترلاسه کړي دي.

د ننګرهار د امنیه قوماندانۍ ویاند سید طیب حماد ویلي، نیول شویو کسانو په خپل جرم اعتراف کړی او دوسیې به يې د قانوني اجراءاتو لپاره ژر تر ژره اړوندو عدلي او قضایي ارګانونو ته وسپارل شي.

پیشرفت چشمگیر در ساخت...

و ارتقای ظرفیت فراهم خواهد گردید. باید گفت که برای اعمار ساختمان این مرکز مبلغ (۴۱۷) میلیون افغانی هزینه شده و کار ساختمانی آن به گونه کامل به پایان رسیده است. بخش دوم این پروژه، تجهیز مرکز با وسایل طبی است که پیشرفت قابل ملاحظه‌ای داشته و از سوی عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه‌الله تعالی ورعاء» مبلغ (۹۶۴) میلیون افغانی برای آن منظور شده است و روند قرارداد تجهیزات طبی بخش‌های رادیولوژی و انکولوژی آن نیز تکمیل گردیده است. همچنان بودجه‌ای به ارزش (۱۱۰) میلیون افغانی برای تهیه سایر تجهیزات طبی این مرکز نیز منظور شده و روند قرارداد آن به زودی آغاز خواهد شد. بخش سوم این پروژه، آموزش و استخدام کارکنان است که در تشکیل سال جاری توجه ویژه‌ای به آن صورت گرفته است. وزیر تحصیلات عالی در این رابطه به مسئولان مرکز گفت: «برای این مرکز متخصصان تخنیکی مورد نیاز را فراهم کنید؛ اگر در داخل کشور موجود نباشند، آنان را از خارج دعوت و استخدام نمایید.» وی همچنان افزود که در این زمینه با متخصصان کشورهای منطقه نیز صحبت شده است. قابل یادآوریست که این مرکز بزرگ تشخیص و درمان بیماری‌های سرطانی، تحت چتر وزارت تحصیلات عالی، در شفاخانه تدریسی علی‌آباد مربوط پوهنتون علوم طبی کابل در دو طبقه اعمار شده است و فاز نخست پروژه یاد شده به شمار می رود و پس از تکمیل دو فاز دیگر که شامل تجهیز کامل مرکز و استخدام و آموزش کارکنان است، در آینده نزدیک به بهره برداری سپرده خواهد شد. گفتنیست که در حال حاضر، بخش‌های واکسین و جراحی بیماری‌های سرطانی در شفاخانه تدریسی علی‌آباد فعال می باشند و مرکز یادشده خدمات مربوط به شعاع درمانی این بیماران را نیز ارائه خواهد کرد.

بدخشان کې د دوو پروژو...

پلې شوې دي. د نوموړي په وینا، په دې پروژو کې د «کورخودره» کرنیز کانال د شپږ کیلومترو په اوږدوالي او همدارنګه د ۱.۴ میلیونو افغانیو په لګښت د یو استنادي دهوال جوړول شامل دي. تکساري زیاته کړه، چې د دغو پروژو په بشپړېدو سره به شاوخوا ۲۰۰ کورنۍ په مستقیم ډول ترې ګټه واخلي، نږدې دوه زره هکتاره کرنیزې ځمکې او باغونه به خړوب او د اوبو د کمښت ستونزه به تر ډېره هواره شي. د یادونې وړ ده، چې د بدخشان ولایت په بلابلو ولسوالیو کې د کرنې د ودې، د اوبو د مدیریت او د بزګرانو د اقتصادي وضعیت د ښه والي په موخه ورته پراختیایي نورې پروژې هم تر کار لاندې دي.

برای ۸۰۸ خانواده ...

مسئولان کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین می‌گویند: هدف از برنامه توزیع زمین، فراهم‌کردن سرپناه دایمی برای خانواده‌هاییست که پس از سال‌ها مهاجرت به کشور بازگشته‌اند تا بتوانند زندگی با ثبات و مصئون را آغاز کنند. به گفته آنان، اسکان دایمی عودت‌کنندگان یکی از بخش‌های مهم رسیدگی به مشکلات مهاجرین به شمار می‌رود و در کنار توزیع زمین، تلاش‌ها برای فراهم‌سازی خدمات ضروری و ایجاد زمینه‌های مناسب زندگی برای این خانواده‌ها نیز ادامه دارد. در همین حال، مسئولان تأکید کرده‌اند که روند شناسایی، ثبت و توزیع زمین برای خانواده‌های عودت‌کننده در ولایت‌های مختلف کشور به صورت مرحله‌وار ادامه خواهد یافت.

افغانستان کې د داعشي...

عملیات ترسره شوي، چې په پایله کې يې د دغې ډلې فعالیتونه له منځه تللي او د سازمان‌یافته حضور زمینه يې له منځه وړل شوې ده.

د اسلامي امارت ویاند همداراز د افغانستان له ګاونډیو او د سیمې له هېوادونو وغوښتل، چې د افغانستان له خاورې د امنیتي کوانښونو په اړه اندېښنه ونه لري، ځکه د ده په خبره، اوسني حکومت د هېواد د امنیت د ټینګښت او د هر ډول وسله‌والو ډلو د مخنیوي لپاره لازم تدابیر نیولي دي. دا څرګندونې وروسته له هغې کېږي، چې د روسیې د بهرنیو چارو وزیر، سرګي لاوروف، په خپلو وروستیو خبرو کې ویلي وو: مسکو په افغانستان کې د داعش ډلې د شتون او احتمالي پراختیا په اړه اندېښنه لري او دا موضوع يې د سیمې د امنیت لپاره مهمه بللې ده.

بررسی وضعیت آموزش...

مسلکی به‌ویژه لیسه تعلیمات خاص ولایت بامیان و نیازهای شاگردان بحث و تبادل نظر نمودند و هیئت سازمان ملل بر ادامه همکاری برای رسیدگی به نیازهای آموزشی و بشردوستانه تأکید کرد.در ادامه آمر تعلیمات تخنیکی و مسلکی ولایت بامیان خواستار گسترش همکاری نهادهای بین‌المللی در زمینه تکمیل پروژه‌های زیربنایی، حمایت از مراکز آموزشی، توسعه آموزش‌های تخنیکی و مسلکی، تجهیز رشته‌های برق و ساختمان و ایجاد فرصت‌های شغلی برای جوانان شد .

قابل یادآوریست که هیئت یادشده در ادامه سفر خود، از پروژه‌ها و مراکز آموزشی مربوط به آمریت تعلیمات تخنیکی و مسلکی ولایت بامیان، از جمله در ولسوالی‌های پنجاب و ورس، نیز بازدید خواهد کرد.

۲۰تنه د امارتي تأسیساتو...

او منسوبینو کډون کړی و. په دې مراسمو کې مسئولینو د اسلامي امارت د رهبرۍ د فرمانونو پر پلي کېدو ټینګار وکړ، د ځانګړو قطعاتو د مسئولینو او منسوبینو د هڅو او لاسته راوړنو ستاینه يې وکړه او د مسئولیتونو د لا ښو ترسره کولو لپاره يې د روزنې پر ارزښت او رول ټینګار وکړ. په پای کې فارغو شویو منسوبینو ته د فراغت تصدیق‌لیکونه هم ووېشل شول.

د زابل د روغتیايي سکتور...

او د ماشومانو د روغتیايي ستونزو د راکمولو او د خدمتونو د پراختیا په موخه يې د روغتیايي ټیمونو د زیاتوالي غوښتنه وکړه؛ څو ارمنو خلکو ته پر وخت روغتیايي خدمتونه ورانديږي شي. دغه راز، د زابل والي د عامې روغتیا وزارت له پروګرامونو او هڅو د ملاتړ ترڅنګ؛ د روغتیايي خدمتونو د ښه والي لپاره د همغږۍ او کډ کار پر دوام ټینګار کړی دی. د عامې روغتیا وزیر د یادو مسئولینو د خبرو په اورېدو سره؛ د زابل د روغتیايي وضعیت د ښه والي په موخه د همکارۍ او لازمې پاملرنې ډاډ ورکړی او ویلي يې دي چې د خدمتونو د لا پراختیا په موخه د هېواد په ۳۱۸ ولسوالیو کې عمومي روغتونونه جوړېږي، چې زابل يې هم یوه برخه ده.

د افغانستان او بروناى ...

اریکو د پیل، پیاوړتیا او پراختیا په اړه هر اړخیز بحثونه کړي دي. په دغې ناسته کې د سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او تحصیلي همکاریو د پراختیا پر فرصتونو خبرې وشوې او دواړو خواوو د دواړو هېوادونو ترمنځ د متقابل تعامل د زیاتېدو پر اهمیت ټینګار وکړ. د افغانستان سفارت ویلي: دواړو لورو هیله څرګنده کړې چې د کابل او بندر سري بګاون ترمنځ اړیکې به لا پراخې شي او د همکاریو لپاره به نوې لارې چارې رامنځته شي. همدارنګه، په دې لیدنه کې د کډو ګټو په برخو کې د اړیکو د دوام، د تجربو د شریکولو او د متقابلو همکاریو د پیاوړتیا پر ارتیا ټینګار وشو. د سیاسي اړیکو تر څنګ، اقتصادي، فرهنګي او تحصیلي برخې د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکاریو له مهمو برخو څخه بلل شوې دي، چې د چارواکو په باور، د اړیکو د پراختیا او د خلکو ترمنځ د نږدېوالي په رامنځته کولو کې مهم رول لوبولی شي. د یادونې وړ ده، چې د افغانستان سفارت په مالیزیا کې د سیمې له هېوادونو سره د تعاملاتو د پراختیا په موخه خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

په نظام او اداره کې د مکافاتو ...

د ابوبکر رضي الله عنه منزلت څرګند شي او د ابوبکر رضي الله عنه لپاره تشویق او د نورو لپاره هڅونه شي.

له همدې املـه دا ډېره مهمه ده چې مورږ له هغو انسانانو څخه چې ښه کار کوي منه وکړو، هغوی تشویق کړو او د نازولو په یوه طریقه يې ونازوو تر څو دوی د لا ښه کار کولو ته وهڅېږي او نور خلک هم د دوی غوندې کارونو ته مخ واړوي او تشویق شي .

په کوم خای کې چې له تکړه کسانو څخه منه نه کېږي په تدریجي ډول کارونه ډېر ټکنې کېږي، ځکه چې کارکوونکي انسانان به نا امیده شي او کوم کسان چې سم کار نه کوي هغوی به تنبیه نه شي.

په اداره کې مجازات هم د مکافاتو غوندې مهم دي، ځکه که مجرم ته سزا ورنکړل شي، نو هغه به نور هم جرم کولو ته تشویق شي او نور خلک به هم له ده څخه د جرم پر کولو جرئت پیدا کړي، ځکه پوهېږي چې مجرم ته هېڅ ډول سزا نه ورکول کېږي چې په نتیجه کې په اداره کې د جرمونو ګراف ډېر پورته کېږي او په هر لحاظ پر اداره منفي اغېزې کوي.

ابوبکر رضي الله عنه شام ته لښکر واستاوه او د هغه مشر يې خالد بن سعید رضي الله عنه وټاکه، وروسته عمر رضی الله عنه راغی او ابوبکر رضی الله عنه ته يې وویل: تا دی د لښکر مشر ټاکلی دی، په داسی حال کې چې ده فلانی کار کړی او فلانې خبره يې کړې! هغه وو چې ابوبکر رضی الله عنه دی عزل کړ او پر ځای يې یزید بن ابی سفیان وټاکه.(المستدرک علی الصحیحین: ۵۰۸۷)

که څه هم خالد بن سعید رضي الله عنه د کوم غټ جرم مرتکب شوی نه و، خو عمر رضي الله عنه د ده هغه کار او هغې خبرې ته د جرم په سترګه کتل چې کله ابوبکر رضي الله عنه خلیفه وټاکل شو خالد بن سعید رضي الله ورسره بیعت دوه میاشتې ځنډولی و او ځینې خبرې يې هم کړې وې. نو زمورږ په زمانه کې که کوم څوک په خپل منصب کې د جرم مرتکب کېږي هغه ته که جزاء ورنکړل شي دا معلومه خبره ده چې عواقب به يې ډېر بد وي.

کار قیرریزی دو سرک مهم...

فعالیت دارند و آسفالت این مسیرها، علاوه بر تسهیل حمل‌ونقل کالا و مواد اولیه، در کاهش گردوغبار، پاکیزگی محیط و زیباسازی ساحه صنعتی نیز نقش مهمی ایفا خواهد کرد. در همین حال، باشندگان ولسوالی گذره از اجرای این پروژه استقبال کرده و می‌گویند که آسفالت این سرک‌ها بخش بزرگی از مشکلات رفت‌وآمد را برطرف ساخته و عبور و مرور روزانه مردم را آسانتر کرده است. شماری از صنعت‌کاران شهرک صنعتی نیز تکمیل این پروژه را اقدام مؤثر در راستای توسعه فعالیت‌های تولیدی عنوان کرده و تأکید دارند که بهبود وضعیت راه‌ها، کاهش آلودگی‌های محیطی و تسهیل انتقال مواد اولیه و محصولات، شرایط مناسبتری را برای فعالیت کارخانه‌ها فراهم می‌کند. مسئولان شهرداری گذره همچنین اعلام کردند که مجموع عواید این اداره در سال مالی جاری حدود ۷۰ میلیون افغانی پیش‌بینی شده است. به گفته آنان، این بودجه در اجرای پروژه‌های اولویت‌دار از جمله اسفالت سرک‌ها، ساخت کانال‌های آبرسانی و زهکشی و سایر طرح‌های انکشافی ولسوالی به مصرف خواهد رسید. ولسوالی گذره به دلیل موقعیت جغرافیایی خود و میزبانی از شهرک صنعتی هرات، از مهمترین مراکز اقتصادی این ولایت به شمار می‌رود. در سال‌های اخیر، توسعه زیرساخت‌های این ولسوالی، به‌ویژه در بخش سرک‌سازی، از اولویت‌های اداره محلی بوده است. مسئولان محلی معتقدند که بهبود شبکه‌راه‌های مواصلاتی، علاوه‌بر کاهش هزینه‌های حمل‌ونقل و تسهیل فعالیت کارخانه‌ها، می‌تواند زمینه جذب سرمایه‌گذاری بیشتر، رونق تولید و ایجاد فرصت‌های شغلی جدید را در هرات فراهم سازد.

د کشندې – پل برق...

شمېرل کېږي چې د بلخ ولایت د کشندې او زارع ولسوالیو او همدارنګه د سرپل ولایت د کوسفندي او بلخاب ولسوالیو د اوسېدونکو په تک راتک کې مهم رول لري.

بازسازی زیر ساخت ها؛...

و اعمار پروژه های ملی و توسعه جاده ها، مسئولان را کمک و یاری رسانند، تا باشد در آینده نه چندان دور، یک کشور مرفع، سربلند و متکی به خود در تمام عرصه ها داشته باشیم.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly , Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com :ویب سایت

شریعت
د امارتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷۶٤۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: محمدیوسف حیدري / ۰۷۹۴۹۸۹۶۹۸
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶٦۰٤٤۹٦٦ / ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Saturday 18 July 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1109

له بلخ څخه منځنۍ اسیا ته په صادراتو کې د پام وړ پرمختګ راغلی

د بلـخ د سـوداګرۍ او پانګونې خونـې وایـي: د روان کال پـه لومړیـو درېیو میاشـتو کې له دې ولایت څخـه د ۶۷ میلیونو ډالرو په ارزښـت صادرات شوي، چې د تېـر کال د همـدې مـودې په پرتله درې برابره زیاتوالی ښـیي. د مسئولینو په وینا، غالی، ګیلمونه، د قرهقل پوسـتکي او تـازه او وچه مېـوه د بلخ مهـم صادراتي توکي دي. دوی زیاتوي: د سـوداګرۍ د اسانتیاوو رامنځته کول او د منځنۍ اسـیا له هېوادونو سره د همکاریو هوکړهلیکونه د صادراتو د زیاتوالي مهـم لاملونـه دي. بلـه خـوا، ازبیکستان وایي: افغانستان د روان کال پـه لومړیو پنځو میاشـتو کې دغه هېواد ته د ۸۱ میلیونو ډالرو په ارزښت صادرات کړي دي.

پیشرفت چشمگیر در ساخت و تجهیز بزرگترین مرکز تداوی امراض سرطانی در کابل

شـیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم وزیـر تحصیـلات عالی از امور کاری بزرگتریـن مرکز جامع تشخیص و تداوی امراض سرطانی به سطح افغانسـتان بازدید نمود و آن را ارزیابی کرد. شـیخ صاحب، هنـگام بازدیـد از ایـن مرکـز در شـفاخانه تدریسی علی‌آباد مربوط به پوهنتـون علوم طبـی کابل، به مسـئولان مربوطـه توصیه‌هـا و هدایـات لازم نموده، بـر تکمیل هرچه بهتر بخش‌هـای باقی مانده این مرکز تأکید کرد. شیخ صاحب همچنان بـه مسـئولان و داکتران شفاخانه تدریسـی علی‌آباد گفت کـه مردم مـا به خدمـات صحی معیاری نیاز دارنـد و با تکمیل این مرکـز، زمینه درمان بیمـاران مبتلا به سـرطان در داخل کشور فراهم خواهد شد و بیماران از نیاز به سفر به سایر کشورها برای درمان بی‌نیاز خواهند شـد و بـرای محصلان و داکتران ترینی نیز فرصت‌های بهتر آموزش های عملی... ص ۳

د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزیر:

علماء، قومي مشران او رسنۍ دې د ټولنې د اصلاح لپاره سره یو موټی شي

د افغانستان اسلامي امارت
د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت
وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات

شـریعت: د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شـکایتونو اورېدلو وزیر د ځینـو ولایتونو لـه قومي مخـورو، علمـاوو او د مطبوعاتو له مسئولینو سـره د همغږۍ ناسته وکـړه. ده پـه دې ناسـته کـې له کډونوالو د یو موټي کېدو غوښتنه وکـړه او ویـې ویل: کـه دا دري قشـرونه سره یو شـي، نو د اسلام دښـمنان به نه درز پیدا کړای شي او نه به د مداخلې فرصت ومومي. بله خـوا، راغلو علمـاوو، قومي مخورو او د مطبوعاتو مسـئولینو د خپلو وړاندیزونـو له وړاندې کولو وروسته، یاد وزارت ته د همکارۍ ډاډ ورکړ او ویې ویل چې د نېکۍ امر او له بدۍ منـع یوازې د یوې اداري نـه، بلکـې د ټولنـې د هر وګړي کـد مسئولیت دی. ۳مخ

۲۰تنه د امارتي تأسیساتو دستانې له روزنیز پروګرام څخه فارغ شول

د کورنیـو چارو وزارت د نشـه‌یي توکو پر وړانـدې د مبارزې معینیت د ځانګړو قطعاتو ریاسـت اړوند د عملیاتي قطعې ۲۰ تنه منسوبین د امارتي تاسیساتو د ستانې له روزنیز پروګرام څخه فارغ شـول. د فراغت په مراسمو کې د عملیاتي چارو لوی رئیس مفتـي محمدالله احمدي، د ځانګړو قطعاتو رئیس ملا امان‌الله حاجي قاضـي، د عملیاتي قطعې قوماندان حفیظ‌الله شـاهین او یو شمېر نورو مسئولینو... ۳مخ

تأکید وزیر امور داخله بر ترویج ارزش‌های اسلامی در ورزش

خلیفه سراج‌الدین حقانی، وزیر امور داخله، با مربیان و بازیکنان تیم فوتبال این وزارت دیدار کرده و از دست‌آوردها و تلاش‌های آنان قدردانی کرده است. در این دیـدار، خلیفه سـراج‌الدین حقانی ورزشکاران را به ادامه تمرینات تشـویق و به آنان توصیه کـرد که در عمل، پابند به ارزش‌های اسلامی و کشور باشـند، پیام برادری و وحدت را در همه جا ترویـج و از تعصب و بدبینی دوری کنند.

حافـظ احمدجان خـدراړ، معاون مسلکی و تخنیکی اداره ورزش، نیز گفت که ورزش در افغانستان در حال گسترش است و به برکت توجه رهبری امارت اسـلامی، دسـت‌آوردهای ورزشـی روزبه‌روز افزایش می‌یابد. وی افزود که به برکت صلح سراسری وتأمین‌امنیت، زمینه‌برای‌فعالیت‌های ورزشی در سراسر کشور فراهم شده است. آقای خدراړ همچنان از خلیفه سراج‌الدین حقانی به‌دلیل حمایت و تشویق‌همیشگی‌ورزشکاران‌قدردانی کرد.

د زابل د روغتیایي سکټور د پیاوړتیا لپاره د همکارۍ ډاډ ورکړل شو

د افغانسـتان د اسـلامي امـارت د عامـې روغتیا وزیـر مولوي نور جلال جلالـي، د زابل له والي ملا شېر محمد شریف او د دغه ولایت د عامـې روغتیـا له رئیـس ډاکټر میرویـس افغان سـره کتلي دي. د عامې روغتیا وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې په دې کتنه کې د زابل د عامې روغتیا رئیس، د دغه ولایـت د روغتیایي وضعیت، شـته سـتونزو او ارتیاوو په اړه هر اړخیز معلومات ورکړل... ۳مخ

بررسی وضعیت آموزش‌های تخنیکی و مسلکی در بامیان

هیئتی به ریاسـت برونـو لمارکیس معـاون انکشـافی و نماینـده ویژه سرمنشی سـازمان ملل متحد برای افغانسـتان با استاد شاه‌ولی احمدی آمر تعلیمات تخنیکی و مسـلکی ولایت بامیان دیـدار و گفتگو نمود. آنان در این نشست پیرامون وضعیت مراکز تعلیمات تخنیکی و... ص۳

بهره‌برداری از دو شبکه آبرسانی با هزینه بیش از ۱۶ میلیون افغانی در غور

مسئولان ریاسـت احیا و انکشاف دهـات ولایت غـور از بهره‌برداری دو شبکه آبرسـانی با هزینه بیش از ۱۶ میلیـون افغانـی در این ولایت خبر می‌دهند. ذبیح‌اللـه غوثی‌زاده مسـئول نشـرات ریاسـت احیا و انکشاف دهات ولایت غور می‌گوید که کار این پروژه ها در روسـتاهای (شـمال بادگاه و سـوخته علیا) از مربوطات مرکز این ولایت به ارزش مجموعی۱۶ میلیـون و ۳۷ هزار و ۱۵۲ افغانی تکمیل و به بهره‌برداری رسـید. وی افزود که با تکمیل شدن این پروژه‌ها ۵۱۴ فامیل به آب پاک و صحی دسترسی پیدا کرده که نقش مهمی در کاهش مشکلات ناشی از کمبود آب و بهبود وضعیت صحی باشندگان محل دارد. از سوی دیگر باشـندگان محل از تطبیق این پروژه استقبال کرده مشکلات کم‌آبی را در بقیه مناطق نیز یادآور شـده خواهان توجه در زمینه شدند.

ننګرهار کې د نشه‌یي توکو د قاچاق مخنیوی وشو

د ننګرهـار د امنیـې قوماندانـی مسـئولینو ویلي: پـه دغه ولایت کې یې ځلور تنه له زرکونه نشه‌یي کولیو او لسـګونه کیلو ګرامه نورو بېلابېلو نشـه‌یي توکو سره لاس په لاس نیولي دي.
د ننګرهار د امنیه قوماندانی... ۳مخ

د نړۍ څار

ایران په پنځو هېوادونو کې د امریکا اډې ویشتلې دي



د ایران فارس خبري آژانس راپور ورکړی، چې د امریکا له لوري د ایران په سوېل کې پر څو پلونو له بریدونو وروسته، ایران د لوېدیځې اسیا په پنځو هېوادونو کې د امریکا پر پوځي اډو پراخ توغندیز او ډرون بریدونه پیل کړي دي. د راپور له مخې، په بحرین، کوېت، قطر، اردن او عراق کې د امریکا اډې په نښـه شوې دي. دا هم ویل شوي، چې د بحرین او سعودي عربستان ترمنځ د ملک فهد پل هم بمبار شوی دی. فارس دیوه امریکایي چارواکي له قوله لیکلي، چې امریکایي ځواکونو د ایران په سوېل کې څو پلونه په نښه کړي، ترڅو بندرعباس ته د اکمالاتي لارو تک راتک کډوډ کړي. د راپور له مخې، د کوېت پوځ ویلي، چې د ایران د توغندیزو او ډرون بریدونو د شنډولو لپاره یې هوایي دفاعي سیستمونه فعال کړي دي. همدارنګه په بحرین کې د خبرداري زنګونه وهل شوي او د امریکا پنځمه سمندري اډه هم د بریدـ هدف بلل شوې ده.

چین و پاکستان خواستار ازسرگیری گفتگو میان امریکا و ایران شدند

وزارت امور خارجه چین، اعلام کرده است که وانگ یی، وزیر امور خارجه این کشور و محمد اسحاق دار، وزیر امور خارجه پاکستان، در گفتگوهای خود در شانگهای، خواستار برقراری آتش‌بس و ازسرگیری گفتگو میان ایالات متحده و ایران شده اند. بر بنیاد اعلام وزارت امور خارجه چین، وانگ یی از همه طرف‌ها خواسـته است که به تعهدهای خود پایبند باشند و مفاد تفاهم‌نامه آتش‌بس را رعایت کنند. بر بنیاد گزارش‌ها، وزیر خارجه چین، پیشتر هم در دیدار با همتای سعودی خود بر پشتیبانی کشورش از حفظ روند گفتگوها میان ایالات متحده و ایران تأکید کرده و خواستار توافق جامعی میان دو کشور شده بود که به همه کشورهای منطقه قابل قبول باشد.

دو قایق با صدها سرنشین در آب‌های میانمار غرق شد

بر بنیاد گزارش خبرگزاری رویترز، بیش از ۵۰۰ نفر در پی غرق شدن دو قایق در سـواحل میانمار مفقود شـده و احتمال می‌رود جان‌های خود را از دست داده باشند.
سازمان بین‌المللی مهاجرت و کمیسـاری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان روز پنجشـنبه در بیانیه مشترک گفتند که بر اساس اطلاعات اولیه، این دو قایق اواخر ماه جون از ایالت راخین میانمار حرکت کرده بودند. این دو نهاد اعلام کردند که بیم آن می‌رود بیش از ۵۰۰ نفر در این دو حادثه جان خود را از دست داده باشند.
به گفته سـازمان ملل متحد، نخستین قایق با حدود ۲۵۰ سرنشین اندکی پس از حرکت ناپدید شد. همچنین گمان می‌رود قایق دوم با حدود ۲۸۰ سرنشین، روز ۸ جولای در سواحل منطقه آیه‌یاروادی میانمار غرق شده باشد.

چین کې د مصنوعي ځیرکتیا نړیوال سازمان جوړ شو

د چین په شانګهای ښـار کې د مصنوعي خیرکتیا د همکاریو نړیوال سازمان د جوړېدو ټرون لاسلیک شو. د چین د بهرنیو چارو وزارت په وینا، په دغه سازمان کې د چین، پاکستان او روسـیې په ګډون ۲۹ هېوادونه شامل دي. دغه سازمان بـه د مصنوعي ځیرکتیا په برخه کې د نړیوالې همکارۍ، حکومتولۍ او خوندي پرمختګ لپاره کار وکړي. د سـازمان په ټرون کې د انسان‌محورۍ، ګډو ګټو او نړیوالې همکارۍ پر اصولو ټینګار شـوی دی. د مصنوعي ځیرکتیا د همکاریو نړیوال سازمان مرکزي دفتر به د چین په شانګهای ښار کې وي.